# لکی مروت: د ترهگرو په ضد لویه کامیابي، 12 وژل شوي







**په لکی مروت او قبایلي سیمو کې د استخباراتي معلوماتو په اساس برید کې د تي تي پي ټیپو گل ډلې 12 ترهگر وژل شوي دي۔ د ترهگرو موټر په ټولیزه توگه ویجاړ، وسلې او مهمات ترلاسه شول**

له تېرو څو ورځو راهیسې په لکی مروت او شاوخوا سیمو کې امنیتي ځواکونو او ځایي خلکو د ترهگرو پر ضد خپله ولکه ټینگه کړې او دوی د تیښتې هڅه کوي۔

**په وژل شویو ترهگرو کې د ټیپو گل ډلې قوماندان حسن عرف ضرار هم شامل دی چې له نورو وژل شویو ترهگرو سره یې پر پولیسو په گنو بریدونو کې لاس درلود۔ د دغو ترهگرو وژل د تحریک طالبان پاکستان لپاره لوی گوزار دی**

د امنیتي ځواکونو د کلک پلان او چټک غبرگون له امله ترهگرو ته درانه زیانونه اوښتي دي۔ انشاءالله د سیمې خلک او امنیتي ځواکونه به په گډه د ترهگرۍ پر وړاندې بریا ته دوام ورکوي او دغه ناورین به له منځه وړي۔